


نن په چم محلت کښې د سحر په وخت خلک
راټول شوي وو- ګل کاکا، خان جي، ډاکټر
اظهر او نورو خلکو خپلو کښې خبرې اترې
کولې په خبرو کښې د ټولو نه تېزه نایاب مامي
وه- ټول ماشومان حېران وو چې څۀ چل دے-



ما د نایاب مامي نه تپوس وکړ چې دا څۀ چل دے؟ هغې ووې، مونږ د محلت په سر کښې یو ور لګول غواړو- علي تپوس وکړ، د څۀ د پاره؟ مامي ووې، چې د محلت خلک د هر څۀ نه په امان شي او باغ هم خراب نه شي-



خانجي ور د محلت نمر خا تۀ اړخ ته لګول غوښتل
او ګل کاکا قبلې اړخ ته- هغوي د يو بل خبره نۀ
منله- د ټولو په يو ځاے د خبرو کولو په وجه هيڅ
څوک په خبره نۀ پوهېدل چې څوک څۀ وايئ- ورو
ورو د ټولو اوازونه هم په اچتېدو شول-



قبلې اړخ ته لوی سړک او نمر خاتۀ ته بازار او
سکول دے- ګل کاکا دا خبره نۀ منله- په دې
کښې د محلت د ټولو نه مشره مېرمن عابده
ترور راغله- ټولو ووې چې هغې نه تپوس کول
غواړي- نایاب مامي ورته ټوله خبره وکړه- هغې
ډېر په غور واورېده-



عابدې ترور ووې چې نمر خاتۀ طرف ته په غټ
ور لګولو به د ماشومانو سکول ته تلل راتلل
اسان شي- د بازار نه به سود سودا راوړل هم
اسان شي- او خۀ موده پس به لږې پېسې را
ټولې کړو نو بل طرف ته به يو وړوکې تمبه هم
ولګوو- ټول د عابدې ترور په خبره غلي شو -



بیا ټولو د خوشحالۍ نه ووې، واه واه! دا خو ډېره ښه صلاح ده- خان جي او ګل کاکا یو بل ته ورتر غاړه شول- وئې ووئېل چې مونږ خو د خبرې نه اوږده لانجه جوړه کړې وه- عابدې ترور راله مسئله حل کړه- ټول په دې فېصله رضا وو چې ډېر زر به په محله کښې ور ولګي-



ماشومانو د خوشحالۍ نه لاسونه پړقول- د سکول
د لارې د اوږد والي د لاسه به هغوي اکثر ناوخته
رسېدل- او س د ور په وجه به د هغوي لاره هم لنډه
شي او چم محلت به هم محفوظ شي- لوے او
واړۀ ټول کورونو ته خوشحاله واپس روان شول-



**بنيادي سوال**

د يوې سيمې وسيدونكي خلک خپلې مسئلې څنګه حل كوي؟

## د لوستلو صلاحيتونه او حكمت عملۍ

| | |
|---|---|
| غږ پوهنه : | حركات : زېر، زبر، پېښ |
| د ټكيو پنګه: | حېران، راټول، امان، خَراب، نمر خاتهٔ، پوهېدل، اوازونه، وچتېدو، بيان، فېصله، مېرمن، سود سودا، صلاح، پړقول، لنډه، محفوظ |
| ژب داني: | بامعني او بې معني ټكي |

## لېولډ ريډر

په يو كلاس كښې د لوستلو د صلاحيت مطابق د ماشومانو مختلف ګروپونه وي- لكه ابتدائي، مېنځنۍ او د بهترې درجې لوستونكي- د دې صلاحيتونو مطابق د ماشومانو د پاره د لېولډ ريډر په نوم مختلفې قيصې ليكلې شوې دي- د دې لېولډ ريډر متن په رو رو سېوا كړے شوے دے- د لېولډ ريډرز بنيادي مقصد ماشومان خپلواكه لوستونكي جوړول دي- د 24 هفتو د پاره د لېولډ ريډر 8 سېټونه تيار كړي شوي دي- د هر لېولډ ريډر سېټ د پاره درې هفتې ټاكلې شوي دي- د هر يو لېولډ ريډر په شاتني مخ د ماشومانو د پاره د لوستلو متعلقه مهارتونو سرګرمۍ وركړې شوي دي-

د چپايۍ په وخت د دې موادو د هر قسمه غلطۍ نه د پاک ساتلو د پاره په زړهٔ پورې كوشش شوے دے- بيا هم كهٔ چرې د لوستلو په وخت تاسو ته په دې كښې څهٔ قسمه غلطي ښكاره شوه نو مهرباني وكړئ د دې باره كښې زر تر زره د پاكستان ريډنګ پراجېكټ ضلعي يا صوبائي دفترونه خبر كړئ- د دې تعاون د پاره به مونږ ستاسو مننه كوؤ-

# استاذانو د پاره لارښوونې

د وړومبيو درېو مخونو نه پس لاندېني تفهيمي سوالونه تپوس کړئ-

1. په محلت کښې څۀ ستونزه راپېښه وه؟
2. د محلت خلکو وَر لګول ولې غوښتل؟

د نيمې قيصې نه پس لاندېني تفهيمي سوالونه تپوس کړئ-

1. ټولو د يو بل خبره ولې نۀ منله؟
2. کۀ چرې تاسو د محلت خلکو له مشوره ورکوله نو څۀ به وه؟

د قيصې په اخره کښې لاندېني تفهيمي سوالونه تپوس کړئ-

1. د ماشومانو فېصله ولې خوښه شوه؟
2. په قيصې کښې د خپلې خوښې کردار په حقله څۀ ووايئ؟


www.pakreading.org

This publication is made possible by the support of the American people through the United States Agency for International Development (USAID). It is produced by the USAID-funded Pakistan Reading Project in collaboration with the provincial/regional government. The contents are the sole responsibility of the project and do not necessarily reflect the views of USAID or the United States Government.

د دې موادو خپرونه د امريکائي خلکو په مرسته د امريکې بېن الاقوامي ترقۍ ادارې په لاس ممکن شوې ده- دا مواد يو ايس ايډ- پاکستان ريډنګ پراجېکټ د صوبائي/علاقائي حکومتونو په مرسته او شراکت سره تيار کړي دي- ددې موادو ټوله ذمه واري د پاکستان ريډنګ پراجېکټ ده- او دا ضروري نۀ ده چې دا د يو ايس ايډ يا د امريکائي حکومت د نظريې عکاسي کوي-